اتباع او مهاجرين:

# خپل حقوق وپېژنئ

*په ټیکساس کې هر څوک دې لاندې حقوقو په پام کې ونیسي:*

0 که تاسو د کار قانوني اجازه (ورک پرمټ) یا ګرین کارټ لرئ، دا تل له ځان سره ولرئ. که ګرین کارټ نه لرئ، د امریکا له خوا صادر شوی د ایالت پېژندپاڼه (ID) یا د موټر چلولو جواز له ځان سره ولرئ.

0 د خپل اصلي هېواد اسناد له ځان سره مه ګرځوئ.

## که یو پولیس یا د کډوالۍ افسر تاسو ته راشي...

### د کار په ځای یا عامه ځای کې

تاسو اړتیا نه لرئ چې پوښتنو ته ځواب ورکړئ یا د خپل ځان یا توکو د تلاشي اجازه ورکړئ، پرته له افسر یا هغه څوک چې د محکمې یو قانوني امر وړاندې کړي. امر باید د قاضي لخوا لاسلیک شوی وي او ستاسو نوم، پته، او اجازه په کې شامله وي.

**تاسو تل حق لرئ چې:**

0 د افسر نوم او اداره وپوښتئ.

0 وپوښتئ: " آیا زه تلای شم؟" که یې اجازه نه درکوله، د توقیف یا نیولو دلیل وغواړئ.

0 مخکې له دې چې څه لاسلیک کړئ یا څه ووایئ، د وکیل سره خبرې کولو غوښتنه وکړئ. که ونیول شوئ، یوازې خپل نوم، د زیږون نېټه او پته ووایئ.

### د ترافیک په تم ځای کې

آرام او مؤدب پاتې شئ، خپل لاسونه په سټیرنګ ویل (اېشټرینګ) وساتئ یا افسر ته ووایئ چې څه کوئ. چلوونکی باید یوازې خپل نوم، د موټر چلولو جواز، او د بیمې ثبوت ورکړي.

### په کور کې

اړتیا نه شته چې هغه چا ته چې د محکمې امر نه لري، د کور دروازه خلاصه کړئ. امر باید د قاضي لخوا لاسلیک شوی وي او ستاسو نوم، پته، او اجازه په کې شامله وي. افسر کولی شي دا سند تاسو ته د کړکۍ له لارې یا د دروازې لاندې درکړي. که هغوی دا سند ونه لري، په مؤدبانه ډول ووایئ: "مهرباني وکړئ لاړ شئ".

## که بل څوک نیول کېږي یا ورته ورنژدې کېږي...

د نیولو په بهیر کې مداخله مه کوئ، خو تاسو حق لرئ دا بهیر وګورئ او حتی ثبت یې کړئ که تاسو فکر کوئ چې دا خوندي ده. د افسر لارښوونې تعقیب کړئ، لکه شاته تلل.

## که تاسو ونیول شئ...

تاسو کولی شئ وغواړئ خپل موټر په خوندي ځای کې ودروئ یا خپل سامانونه هغه چا ته ورکړئ چې له تاسو سره هلته وي. د تېښتې یا مقاومت هڅه مه کوئ.

مخکې له دې چې افسر ته څه ووایئ یا څه لاسلیک کړئ، تاسو حق لرئ له وکیل سره خبرې کولو غوښتنه وکړئ. تاسو حق لرئ له وکیل سره په ځانګړې توګه د ټیلیفون له لارې خبرې وکړئ، په هغه ځای کې چې افسر یې درته بنیي. نورې ټیلیفوني اړیکې ممکن د پولیسو لخوا ثبت یا وڅارل ي.

## په روغتون یا بیړني خونه کې...

د ټیکساس روغتونونه او بیړنۍ خونه اړ دي چې ستاسو د تابعیت یا کډوالۍ حالت په اړه پوښتنه وکړي.

تاسو اړتیا نه لرئ ځواب ورکړئ. نه ځواب ورکول باید په هغه خدماتو اغېز ونه کړي چې تاسو یې ترلاسه کوئ.

خو تاسو ممکن اړ شئ چې د عکس لرونکي پېژندپاڼه (ID) وړاندې کړئ.



د کډوالۍ قوانینو او حقوقو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، texaslawhelp.org/immigration ته لاړ شئ.

# چمتو اوسئ

د ۲۰۲۵ کال کې د کډوالۍ قوانین او پالیسۍ په چټکۍ سره بدلیږي، او د زیاتي پلي کېدو تمه کیږي .خپل د بیړني حالت پلان له باوري کورنۍ، ملګرو او همکارانو سره شریک کړئ .خپل حقوق وپیژنئ او دا معلومات له ځان سره وساتئ.

## نور

0 که ستاسو په دې هېواد کې له یو کال څخه کم وخت کیږي او د جرم قرباني یاست، یا که ستاسو د یو کورنۍ غړی د متحده ایالاتو تابعیت لري، تاسو ممکن د پناه غوښتنې یا بل قانوني وضعیت لپاره غوښتنه وکړئ. ژر تر ژره دا وکړئ، ځکه چې دا پروسه وخت نیسي. که تاسو قانوني اسناد لرئ چې تاسو ته په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدو اجازه درکوي، خو دا اسناد مو له لاسه ورکړي، سمدستي دا مشکل حل کړئ.

0 له یو وکیل سره اړیکه ونیسئ یا د Know Your Rights (خپل حقوق وپیژنئ) کلینیک ته لاړ شئ ترڅو ستاسو په چمتووالي کې مرسته وکړي.

## اسناد او مالي حالت

0 غلط معلومات مه کاروئ.

0 پیسې خوندي کړئ. تاسو ممکن د وکیل ګمارلو او د بند پر مهال د اړتیاوو او خوړو لپاره پیسو ته اړتیا ولرئ.

## د بیړني حالت معلومات

0 د مهمو اسنادو یو فایل جوړ کړئ، لکه د بیړني حالت معلوماتو پاڼه، او خپلو بیړني اړیکو ته ددې فایل لاسرسی ورکړئ. په دې کې د وکیل تماس معلومات، د قانوني وضعیت لپاره د اسنادو یا غوښتنلیکونو کاپي، د غیر والدین واک ورکوني سندونه، د کور او موټر اضافي کیلي ځای، او هغه مهم بیلونه چې باید ادا شي شامل کړئ.

0 خپل ټیلیفون او نورې وسیلې د 6 عدده، عددي پاسورډ سره خوندي کړئ (نه د بڼې، مخ یا د ګوتې نښه پیژندنې "فینګر پرینټ" سره).

0 د باور وړ شخص سره د وکیل واک تنظیم کړئ ترڅو هغوی ستاسو د بانکي حساب او نورو شتمنیو ته د نیول کېدو یا توقیف پر مهال لاسرسی ولري.

## ستاسو ماشومان

0 که ستاسو ماشوم په متحده ایالاتو کې زیږېدلی وي، د هغه د زیږون ثبت د خپل هېواد له حکومت سره وکړئ (د بېلګې په توګه، د خپل هېواد له کونسلګرۍ سره).

0 ډاډ ترلاسه کړئ چې د بیړني حالت ټول تازه معلومات او اړیکې ستاسو د ماشومانو مکتب ته ورکړل شوی دي، په ځانګړي ډول د هغه چا په اړه معلومات چې کولی شي ماشومان له مکتب څخه اوچت کړي.

0 د غیر والدین واک ورکونې (non-parental authorization) فورمه ډکه کړئ ترڅو که چیرې اړتیا پیښه شي، بل بالغ کس په موقت ډول ستاسو د ماشومانو پالنه وکړي.

## ستاسو موټر

**د نیول کېدو د مخنیوي لپاره:**

0 د موټر ثبت تازه وساتئ.

0 ډاډ ترلاسه کړئ چې د موټر څراغونه مو کار کوي؛

0 له شاته کتونکي هنداري څخه څه شی مه ځوړندوئ؛

0 ډاډ ترلاسه کړئ چې د موټر مخکینۍ او شاته نمبر پلیټونه په ښکاره ډول ښکاري؛

0 د مخکینۍ او اړخ هندارو لپاره د کړکیو د تور کولو اعظمي فیصدي (۲۵٪) څخه مه زیاتوئ؛

0 د ټګ راتګ ټول قوانین او د سرعت محدودیتونه رعایت کړئ.

دا معلومات د

TEXAS
LEGAL
SERVICES
CENTER

لخوا چمتو شوي دي.